# هغو کسانو ته معلومات، چې د دوبلین د تړون (معاهدې) د مقرراتو لاندې راځي

**آیا زه د دوبلین د تړون د مقرراتو لاندې راځم؟**
کله چې تاسو په یو داسې اروپایي هېواد کې وخت تیر کړی وي، چې د دوبلین په همکارۍ کې شامل وي، نو د پناه غوښتنې قضیه مو د دوبلین د تړون د مقرراتو لاندې راځي. تاسو ته به د پولیسو لخوا د راجستر پر مهال په دې هکله خبر درکړل شي او یا به زمونږ له خوا لیک تر لاسه کړئ.

**ما ته به څه وخت خبر راکړل شي چې د پناه غوښتنې غوښتنلیک مې په کوم هېواد کې څېړل کیږي؟**

که چیرې تاسو د دوبلین د تړون د مقرراتو لاندې راځئ، مونږ به په شاوخوا څلورو (۴) میاشتو کې پرېکړه وکړو چې کوم هېواد باید ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک وڅېړي. ځینې قضیې کېدای شي له دې څخه زیات وخت ونیسي.

**زه به په کوم ځای کې اوسېږم؟**

که ستاسو قضیه د دوبلین د تړون د مقرراتو لاندې راځي، معمولآ باید په یو لنډمهاله (ترانزیت) کمپ کې و اوسېږئ. که چیرې تاسو یو عادي کمپ ته ولېږدول شئ، لامل یې دا دې چې مونږ لا زیات وخت ته اړتیا لرو تر څو معلومه کړو چې ستاسو د پناه غوښتنې د قضیې مسؤلیت د کوم هېواد پر غاړه دی.